# له شعر نه څه غواړئ؟

تر دې عنوان لاندې مې د کابل په ښکلې مجله کښې يو وافي او کافي بحث زما د ښاغلي او پوهنوال دوست "مجروح" په قلم ولوست، اساساً زه د دوی سره هيڅ اختلاف نه لرم. او هغه څه چې دوی ليکلي دي د علم له مخې ټول صحيح او جايز دي.

پخوا چې زه په کابل کښې وم د پښتو ټولنې په نشراتو کښې مې يو څه بحثونه پر همدغه موضوع ليکلي او نشر کړي وه، اوس زما څخه هغه مجلې نسته، فقط دونې مې په ياد دي چې هغه بحث د ادب پر عمومي عنوان باندې وُ، نه يوازې پر شعر، ځکه چې ادب يوه پراخه او حاوي لمن لري، نو زما رايه دغه وه، چې ادب په عمومي مصداق بالذات مقصد نه دي بلکې هر وخت د نورو مقاصدو لپاره وسيله ده غايه نه ګڼله کيږي. (۱)

اما شعر بېل عنوان دئ، او د انسان لپاره بېل مقصد ګڼل کيږي، نو ځکه که د يوازې شعر پوښتنه کوئ، زه به ووايم چې شعر هم پخپله غايه کېدای سي، او د انساني فطرت يو پټ خواهش دئ، او که شعر يوازې د ځينو مقاصدو لپاره وسيله سي، نو په اکثرو ځايو کښې خپل "شعرتوب" بايلي.

څو مياشتې دمخه د مرکز په جرايدو کښې خلکو پر خوارکي او بېچاره "شعر" باندې سختې منډې ووهلې، اکثرو خلکو چې د اوسنی دنيا د مادي او پراګماتيکي فلسفې خوند څکلی دئ پر

ښوزلي شعر باندي ناروا حملې وکړي، مګر زه د دوی پر خوا نه يم ، او "شعر" ښله دغي مادي دنيا د انسان د فطرت او روح يو خوندور آواز ګڼم. يو وخت ما په راډيو کښي يو منظومه واورېده، چي د راډيو په مدح کښي کوم ناظم ليکلې وه، نو ما له ځانه سره ويل : چي دې سړي خو د اوسني عصر يو عجيبه خارقه ستايلې ده، او په رښتيا هم داسي **د ستايلو وړ دئ، مګر پر شعر باندي ظلم هم کړئ دئ**، نو ځکه داسي ويناوو ته "شعر" نه سو ويلای. هو نظمونه به وي ! داسي خلک موږ "شاعران" نه بولو، هو ! "ناظمان" دي.

دا خبره لږ څه څېړنه او غور غواړي د شعر لپاره يو جامع او مانع تعريف پيدا کول مشکل دئ، پخوانو به ويل چي يو منظوم او قافيه لرونکی کلام چي د ويونکي مقصد ئې شعر ويل وي، شعر دئ. مګر د اوسنی دنيا اصطلاحات او د اوسني انسان بديعي ذوق بل څه وايي او ښايي چي موږ اول شعر وپېژنو بيا نو د شاعر نازونه يا ترټنه وکړو، تاسي په شاعر خوارکي پسي سوتی مه کاږئ، چي هرو مرو به ستاسي پر مادي مقصد او احتياج برابر شعر وايي، که نه وي شعر به ډېر مبتذل او رسوا سي، او د پخواني "ادبدرفن" قصه به ځيني جوړه سي، انسان کله کار کوي، زحمت کاږي، ماشينونه چلوي، تر مځکي لاندي په کانو کښي مشغول وي، د مځکي زړه کيني، کله په هوا الوزي پر هيروشيما له آسمانه د اتوميک بم بلاوي ورغورځوي، په دښتو او واورو کښي د دښمنه سره جنګ کوي، پر سره اور ورخغلي، له طيارو څخه د بلا په څېر ځان راغورځوي، بحرونه پرې کوي، او خورا ثقيل دېوهيکله ماشينونه جوړوي، مګر دغه انسان بيا د شپې راحت کوي بيديږي، په سينما کښي د انساني او فطري جمال ننداري کوي، موسيقي اوري، ناچې، مينه کوي، او بالاخره شعر لولي، يا ئې اوري. لکه لومړی کار چي د انسان مادي او حياتي احتياج دئ، دغسي دوهم کار هم د ده روحي او معنوي ضرورت



دئ، تاسي يو زحمت کش سړی نه سوای مکلف کولای، چي (۲۴) ساعته په فابريکه کښي ماشين وګرزوي، او د فطرت له بديعي او جميلو او ښکلو عطاياؤ څخه بالکل ځان محروم کي.

د انسان په فطرت کښي يو طبيعي روحی کشش پروت دئ، هر وخت ښکلا (جمال) خوښوي، او بديعي ذوق دئ د هر ښکلي يعني جميل او بديع شي ميني ته اړباسي دغي ميني په دنيا کښي ټول ښکلي شيان د انسان خوښ کړي دي، او تل د ښکلو په ليدو يا اورېدو دغه فطري روحی تنده ماتوي. او دغه ذوق او خوند په دنيا کښي د صنعت او آرت شهکاری پيدا کړي دي.

د جمال مظاهر په دنيا کښي ډېر دي که يو ختګر ښه او ښکلی عمارت جوړوي، دی طبيعي ذوق ته خدمت کوي، که يو نجار د تښي په څوکه د خپل صنعت يو ښکلی محصول منځته راباسي، دا هم هغه جمالي کشش او جاذبه ده، که يو سازنده او موسيقي وال د آوازو او ږغو ښکلاوي سره ترتيبوي او د موسيقی يوه دلکشه او مهيجه نغمه ځيني جوړوي، دا هم بديعي ذوق دئ. که يو شاعر الفاظ او کلمات په ښکلي او جميل رنګ سره اوډي، دې ته هم بديعي او فني خوند وايو.

اما دا خبره هم مه هېروئ، چي په دغو ټولو شيانو کښي، يو جمالي پلو او بديعي خوا په کار ده، دغه د بداعت او صنعت او جمال او آرت احساس که په يوه کارګر کښي موجود وي، دې ته نو موږ د جمال خدمتګار يا آرټسټ وايو. هرختګر چي خوني په زربی پوښي، يا هر نجار چي کړې وړې لخکداره دروازې جوړوي، يا هر سړی چي رمباړي وهي، دغو ته موږ آرټسټ نه وايو، په هره اندازه چي سړي په خپل کار کښي صنعت داخل کي، يعنی د ښکلا او جمال نمايندګي وکړي نو دده د کار محصول ښکلی او جميل دئ، او انسان ئې خوښوي.

تاسي وگورئ : انسانان ولي تاج محل خوښوي؟ ولي په پسرلي د شنو دښتو او گلانو ننداري ته ...زي؟ ولي په ښارو کښي ښکلي عمارتونه جوړوي؟ ولي د بلبل آواز اروي او د خره له آوازه ئې بد راځي؟ ولي موسيقي اروي؟ ولي له تيارې څخه رڼا ته ځغلي؟ ولي ...؟ ولي ...؟ ولي ...؟

د دې ټولو پوښتنو په ځواب کښي بايد ووايو : دا څکه چي ښکلا ئې خوښه ده، پر جمال مين دئ.

لطيف فنون و صنايع ټوله له دغي سرچشمې څخه پيدا سوي دي ټول د ښکلا او جمال خدمت کوي، له هغه وخته چي انسان پيدا سو، دغه جمالي مظاهر هم پو ځای ورسره پيدا سوه، صوفيان هم د خپلي مشاهدې او ذوق سبه پر دغه جمالي اساس باندي ږدي، پښتون صوفي شيخ متی (کلات بابا) څه ښه ويلي دي :

چي پر دنيا مي سترگي پرې سوې
ستا د جمـــــال په ننداري سوې

په شاعري کښي هم د شاعر رابطه له جماليته سره خورا ټينگه ده، په هر اندازه چي شاعر جمالدوست وي، او بديعي ذوق ئې کامل وي، او د ښېگڼو تصوير ښه وکړای سي، په هغه اندازه د ده فني مقام لوړيږي. او سړی ده ته د کامل شاعر يا آرټيست عنوان ورکولای سي. د شاعر دوه د ښکلا او جمال مظاهر په لاس کښي دي،او دی کوښښ کوي چي په دواړو کښي جمالي مزايا ډېر او څرگند کاندي، هر څوني چي شاعر مؤفق سي او پخپل قريحوي محصول کښي د ښکلا تابش ډېر کښېږدي او د جمال له فياض منبعه ډېره استفاده وکړي په هغه اندازه د شاعر مقام جگيږي، او انسان ئې قدر کوي. شاعر تل سيار فکر لري او د کائناتو سير او سياحت کوي، هر څه وايي، هر څه ليکي، که مو دی د يوه معين مقصد په لومه کښي واچاوه، او په يوه گوټ کښي مو محصور کئ او ورته ومو



ويل : چي راسه په هغه بدبويه او تاريکه او کرغېړنه کارخانه، ننوزه او د ماشين توري زلفي او غتي سترگي او رسا قد وستايه، نو به دی درته ووايي:

چي لالا ! زما خو د ښکلا سره کار دئ، بله وظيفه نه لرم، زه به دې دبوهيکله ماشين پوري بدلي نه وايم، اما کولای سم چي د دې فابريکې د کارگرانو د زړه ترجماني وکړم، د دوی لطيف او بديع احساسات تصوير کړم، د دوی د زړه آرمانونه تاسي ته مجسم کړم، او که د دې ماشين په محصولاتو کښي کوم ښکلي شی وي، هغه به هم زه وستايم، مگر تاسي هم زما له همکاره او همذوقه چي رسام دئ کار واخلئ، او خپل صنعتي محصولات د ده پر نفيس ذوق برابر ښکلي او ښايسته کړئ، چي په انسانانو کښي مقبوليت ومومي ...

تاسي هم مجبور ياست چي د شاعر دغه جمالي وصيت به قبولوئ، که نه د فابريکې مصنوعات به مو ډېر بدرنگ او نامقبول وي، او جمالدوست انسان به ئې نه اخلي، او په نتيجه کښي به مو کارخانه سقوط وکړي او کار و بار به مو منحل سي. اوس نو تاسي وگورئ چي زموږ د شاعر جمالي ذوق او احساس، څوني ضروري دئ؟ حتي چي ستاسي قوي ماشينونه هم بېله دغه ذوقه قيمت نه سي موندلای !!!

اساساً شعر دوې خواوي او دوه مخه لري، يو مخ ئې ادبي او مادي يا تعبيري بللای سو چي شاعر د مقاصدو تعبير څنگه کوي؟ د بيان طرز ئې څنگه دئ؟ او شعر لي د اداء له مخي او د الفاظو او کلماتو د انسجام له پلوه څنگه دئ؟

د شعر دا پلو او دا ظاهري مخ هم خورا مهم دئ، او دلته هم ښکلا خپل سحر ښکاره کوي لکه يو زبردست معمار چي له خښتو او ډبرو څخه په يوه وداني کښي کار اخلي او دغه مسالې داسي سره اوډي چي د معمارۍ يو شهکارځيني جوړوي. شاعر هم له کلماتو او

الفاظو ښخه دغه کار اخلي. او په داسي زيبا او ښکلي ډول ئې سره پيودي، چي د ښکلا او ادبي ښايست يوه تونه وي. رسام له کرښو او خطوطو ښخه کار اخلي، او رنګ آميزي ئې کوي، د موسيقۍ خاوند رغونه او اصوات سره اوډي، او دلکشي نغمې ځيني جوړوي. دغه دواړي طائفې جمال ته خدمت کوي او انسان په خپلو آثارو محسور کوي، د شاعر کار هم دغسي دئ، دی د ژبي متداول او مروج کلمات هسي استعمالوي او په داسي ډول ئې ترتيبوي چي يوه ادبي ښکلا پکښي موجوديږي، او دغه کمال ته نو موږ د شاعرۍ اصلي روح وايو، او شاعر هم په دغه کار سره آرټست کيږي، او د دغه صنعت د انسان پر روح او احساس ژوري اغيزې کوي.

تاسي غور وکړئ يو سړی چي پنسل واخلي، او پر کاغذه يو کروکی رسم کړي، يا کاږه واږه خطونه وکاږي، دغه ته نو موږ آرټست نه وايو، مګر يو فنان رسام هغه خطوط داسي سره ترتيبوي، چي يو ښکلې منظره ځيني جوړه سي، زه که يو رباب واخلم او تارونه ئې سره وشرنګوم، تاسي ته به هيڅ خوند درنه کړي، مګر که هغه تارونه يو ربابی آرټست وشرنګوي نو به ضرور ستاسي پر روح اغيزه وکړي، يا به مو وژړوي يا به مو وخندوي ... دغسي هم که يو ناظم يو څو کلمې سره کښيږدي او هغه د شعر په نامه راوباسي هيڅ اثر به نه لري، مګر که يو شاعر هغه کلمات سره واوډي، او د آرټ ذوق ورسره مل وي، نو دغه کلمات به هسي يوه ادبي ښکلا ومومي، چي هر څوک به ئې له اروېدلو ښخه خوند واخلي، فقط په ښکلا او جمال پوري اړه لري، په کوم صنعتي محصول کښي چي د فنان او آرټست جمالي او بديعي اثر ډېر وي، په هغه اندازه د انسان پر احساساتو اغېزه کوي، او د بشر حواس تل له جميلو او ښکلو شيانو ښخه خوند اخلي. د شعر يوه بله جنبه هم سته چي هغه ئې موضوع يا مقصد بولو، له دې پلوه هيڅ وخت شاعر نه ډېر مقيد



کيږي او نه ډېر غندل کيږي، شاعر آزاد وي، چي د خپل آرټ لپاره يو موضوع غوره کړي، مګر د ده کمال دا دئ چي يو مبتذله موضوع د خپل صنعت په سحر هسي ښکلې کړي چي انسان ئې په خورا خوښي ولولي، او خوند ځيني واخلي. يو پياوړي رسام ته د باغ او ګلشن منظره رسم کول، د خپل هنر د ښکاره کولو لپاره ضروري نه ده، بلکي دی خپل هنر په ډېرو عادي مناظرو کښي هم ښکاره کوي. دغسي يو شاعر هم د خپل شعر لپاره ډېر عالي مطالب د موضوع په ډول نه غوره کوي بلکي ډېر عادي مقاصد په داسي ډول تصوي کوي چي تر عالي مطالبو ئې اثر کم نه وي، مګر دا سحرکاري د شاعر په ذوق او ادبي اقتدار او هنر پوري اړه لري. د يوه نالايق او بې هنره معمار په لاس چي هر راز مساله ورکړئ، هغه ئې په جميل او بديع ډول نه سي استعمالوای.

که تاسي شاعر د نن ورځې له مادي احتياجاتو سره مقيد کړئ، نو به خوارکی شاعر يا تکنيک ساتي، يا ماشينونه. يا به په ريل پوري بدلي جوړوي يا طيارې پوري. يا به لکه د نصاب الصبيان او شرح ماته عامل خاوند اقتصادي او علمي مسايل په نظم سره بيانوي. او نظم به ئې هم د آرټ له پلوه هيڅ قيمت نه لري. مګر که دی پرېږدئ او د دې بېځايه قيدو ښخه ئې آزاد کئ، نو به دی د کائناتو سير کوي، او تاسي ته به داسي دلچسپ موضوعات ومومي، چي پخپله به آفرين ورته وواياست.

کله کله شاعر د شعر په لوی درياب کښي داسي غوټه سي، چي هيڅ مرغلره ئې لاس ته ورنه سي، دلته نو لازمه نه ده ، چي دی به ملامتوو، خوشحال خان چي پر ادبي فعاليت راسي نو ښه او ښکلي شعرونه وايي، مګر کله کله د يوناني طب نسخې هم نظم کوي، او د قوهٔ با لپاره طبي مجربات په پښتو نظم ليکي، نو په هغه ځای کښي چي د ده فني او آرټستيکي طبيعت کار ورکوي، دی يو مقتدر شاعر دئ، مګر کله چي له

جمالي مرکزه ليري کيږي، هلته ئې ناظم ګڼو. که تاسي له روزمره حياتي احتياجاتو او کار آمد مقصدو لپاره د شعر قيمت سنجوئ، نو به اقبال ښه شاعر وي، ځکه چي زموږ حياتي او اجتماعي موقف په خپل شعر کښي راښيي، مګر ټاګور به نو د شاعرانو له ډلي ځخه وباسو، ولي چي هغه نوري بلاوي وايي، حال دا چي انساني ذوق دا دواړه مقتدر شاعران بللي دي بلکي دې دوهم لا بين الانساني موقعيت هم موندلئ دئ.

نو ښه دا ده : چي يوازي د موضوع او مقصد له پلوه د شعر قيمت ونه سنجوو بلکي فقط د شاعر هنر او آرت په نظر کښي ونيسو. وګورئ فردوسي د انسانانو په شاعرانو کښې يو جهاني نوم ګټلئ دئ، حال دا چي د ده د شعر موضوع يو افسانوي او اساطيري فکر دئ، مګر موږ نه سو کولای چي د ده کمال او هنر هېر کړو، دی شاعر دئ، او په شاعرانو کښي لوړ مقام لري، که څه هم په دغه بيت کښي يوه دعا کوي، او يو عادي مقصد لري، مګر د ده فني اقتدار او ادبي هنر د ستايلو دئ چي څنګه يو مبتذل مضمون په مؤثرو او جميلو الفاظو کښي ښرګندوي :

زيزدان بران شاه بـــاد آفرين
که نازد بدو تخت و تاج نګين

سعدی او نظامي خو اکثر اخلاقي مزايا په شعر کښي ځای کړي دي، بوستان او ګلستان او مخزن اسرار خو اخلاقي آثار دي، مګر شعري او بديعي جنبه ئې ذونی قوي ده چي موږ ئې د پارسي ژبي غوره آثار ګڼو. علامه اقبال خو هم اکثر په حياتي او اجتماعي مسايلو کښي ګډيږي مګر د دې عصر يو فنان او سحرکار هنرمند دئ، نو په شعر کښي هنري او آرتستيکي ذوق ډېر اهميت لري، او فقط همدغه هنر دئ، چي شعر ته خوند او اثر وربخښي، او د يوه ناظم او شاعر مقام سره بېلوي. (۲)

و في ذالک فليتنافس المتنافسون !

**لمن ليکونه**

(۱) دا هم په ځينو مواقعو کښي استثناء قبلوي، کله چي ادب خپل نهايي آرتستيکي معراج ته رسيږي بيا پخپله هم غايه کيږي.

(۲) کابل مجله، ۱۳۲۶ لمريز کال، ۱۷ مه ګڼه، ۱ _ ۷ مخونه